دَ ونو بوټو فائدې او ضرورت

# (پښتو نظمونه)

لیکوال

مولانا احمدعلی مردانی

ایس پی ایس ټی
ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبرکالونی مردان
0312-9818511/03208086524

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوټي کرل پکاردي ......... ( نظم)

دَ ژوند بقا دَ پاره بوټي کرل پکار دي
حُسن ښُکلا دَ پاره بوټي کرل پکاردي
وطن په دې ښکلې وي
چرته چې بوټي نال وي
چمن په دې ښکلې وي
چرته چې بوټي نال وي
ماحول اعلا دَ پاره بوټي کرل پکاردي
حُسن ښُکلا دَ پاره بوټي کرل پکاردي
دَ سکول ښُکلا په دې ده
راځے چې بوټي نال کړو
خائسته هوا په دې ده
راځے چې بوټي نال کړو
شفا دوا دَ پاره راځے چې بوټي نال کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حُسن ښُکلا دَ پاره بوټي کرل پکار دی

چرته چې بوټي نال وی

هلته به ژوند ښکلې وی

ښکلې ماحول هغه وی

هغه کۀ ښار کلي وی

ګټې سودا دَ پاره بوټي کرل پکار دی

حُسن ښُکلا دَ پاره بوټي کرل پکار دی

دَ اکسیجن وسیله

چرته چې دا بوټي وی

میو به رنګ په رنګ وی

چې په دُنیا بوټي وی

تولې دُنیا دَ پاره بوټي کرل پکار دی

حُسن ښُکلا دَ پاره بوټي کرل پکار دی

دا شین خادر جوړوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لر او بر دلته کښېږي

قوی نظر جوړوي

په لر او بر دلته کښېږي

دَ ژوند رڼا دَ پاره بوتي کرل پکار دي

حُسن ښُکلا دَ پاره بوتي کرل پکار دي

چرته چې چت څه نه وي

هلته دَ سَر وی دا چت

چرته چې چت څه نه وي

دَ هر بشر وی دا چت

دَ ربّ رضا دَ پاره بوتي کرل پکار دي

حُسن ښُکلا دَ پاره بوتي کرل پکار دي

دا دَ مرغو کورونه

جالي د دُوی په کښي وی

دَ اُوسيدو کورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونې چې ښکلې شنې وی

مخلوق بالا دَ پاره بوټې کرل پکار دی

حُسن ښُکلا دَ پاره بوټې کرل پکار دی

دَ ربّ رضا دَ پاره بوټې کرل پکار دی

صحت په دې سره وی

ډیرې فائدې لری دا

راحت په دې سره وی

حق ستا احمده ! وینا

بل کړه احمده ! پوهه

تازه هوا دَ پاره بوټې کرل پکار دی

حُسن ښُکلا دَ پاره بوټې کرل پکار دی

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوټي كرل پكار دي ...... (نظم)

په محلو كلو كښې بوټي ويشل پكار دي
دَ پشكال ورځې دي ، بوټي كرل پكار دي
كلي كوڅو كښې دغه په هر محل پكار دي
دَ پشكال ورځې دي ، بوټي كرل پكار دي
حجرې جمات ته راځــے ، څو مشرانو لره
راځــے خبر چې كړو ټول ، څو كشرانو لره
دَ خير خبرو لره لارته وَتل پكار دي
دَ پشكال ورځې دي ، بوټي كرل پكار دي
دَ ښه ميوو ذريعه ، دَ ښه خوراك وسيله
دَ كور پخلي دَ پاره هم دَ خشاك وسيله
فائدې ئې دغه ټولې بل ته ښودل پكار دي
دَ پشكال ورځې دي ، بوټي كرل پكار دي
دَ اكسيجن ذريعه ، زمونږ بقا دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل اکسیجن جوړوی زما ستا دَ پاره
دَ نرسرو نه بوټي ډیر اخستل پکار دی
دَ پشکال ورځې دی ، بوټي کرل پکار دی
صحت په دې سره وی دا دَ انسان دَلته کښې
بقا په دې سره وی دَ هر حیوان دلته کښې
دا حقیقت مونږ لره ښهٔ پیژندل پکار دی
دَ پشکال ورځې دی ، بوټي کرل پکار دی
ورسره حُسن ښکلا په هر طرف جوړیږی
ورسره ښکلې فضا په هر طرف جوړیږی
یو وارې دې طرف ته هم د خیال تلل پکار دی
دَ پشکال ورځې دی ، بوټي کرل پکار دی
بیشمره دلته کښې ئې فائدې اعلا دلته دی
هر څوك خبر له دې نه په دې دُنیا دلته دی
شکر د دې خبرو ځکه کوُل پکار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ پشکال ورځې دی ، بوټی کرل پکار دی
څوک چې نقصان ورکوی زما اوستا دښمن دے
احمده ! ستا دَ وطن دَ هر بڼکلا دښمن دے
سبق مدام د جهان دا یادوُل پکار دی
دَ پشکال ورځې دی ، بوټی کرل پکار دی

................................

لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

ایس پی ایس ټی
ګورنمنټ پرائمری اسکول لیبر کالونی مردان

..........

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا چي ونيې په هر خوا دی ...... (نظم)

سیوری یخ ددې دُنیا دی
دا چې ونيې په هر خوا دی
دَ سر سیوری په ګرمې کښې
ښه ملګری زندګې کښې
وُنې دغه چې پیدا دی
سیوری یخ د دې دُنیا دی
اکسیجن ترینه خوریږی
ورسره حُسن جوړیږی
ذمې داري دَ ښکلا دی
سیوری یخ د دې دُنیا دی
ورته کینه چې دَمه شے
چې په تن خوله خوله شے
ښه ملګری دَ هر چا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیوری یخ د دې دُنیا دی
دا کرلی مشرانو
دا کرلی هوښیارانو
دنګې وُنې چې اعلا دی
سیوری یخ د دې دُنیا دی
وسیله هم دَ خشاك دا
وسیله هم دَ خوراك دا
له میو چې ډکې دا دی
سیوری یخ د دې دُنیا دی
تل مارغان په کښې اوُسیږی
ژوند د دوی په کښې تیریږی
کله دوی ترینه جُدا دی
سیوری یخ د دې دُنیا دی
شمیرئې نیشته دَ فائدو نن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت د دي ژوندو نن
په تن دغسې ګويا دی
سيوری يخ د دي دُنيا دی
تل کرل د دي پکار دی
خيال ساتل د دي پکار دی
دا کرلی چې هر چا دی
سيوری يخ د دي دُنيا دی
د احمد وينا ريښتيا ده
دا نال کرے ونه چا ده ؟
نخښانې دي دَ بابا دی
سيوری يخ د دي دُنيا دی

....................

ليکوال

مولانا احمدعلی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوك چې بوټي نن كرى .... (نظم)

راحتونه ، تازګي
څوك چې بوټي نن كرى
ښه عمل د دي ژوندون
راكوى مونږ ته سكون
دا زمونږه خوشحالي
څوك چې بوټي نن كرى
شين څادر په هرځائې ښور
دَ مرغو تولو دا كور
حُسن تول دا قدرتي
څوك چې بوټي نن كرى
دَ صحت پوره ضامن
دَ طاقت پوره ضامن
زندګي ده ، خوشبوئي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چې بوټي نن كري
دَ سرسيوري دَ بشر
كله وى چې بره نمر
مسافر ورته كيني
څوك چې بوټي نن كري
اكسيجن ورسره عام
دَ الله كرم تمام
دَ ژوندون غټه نيكي
څوك چې بوټي نن كري
ثوابونه صدقه
اے احمده ! بنه تو بنه
كټيه تو له ابدى
څوك چې بوټي نن كري

ليكوال : مولانا احمدعلي مرداني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوټي کور کښې اُوکړۀ ..... ( نظم )

صدقه ده صدقه
بوټي کور کښې اُوکړۀ
دَ مالټې ، کينو ، انار
بوټي دا هم دي پکار
دَ هر يو بيله ذائقه
بوټي کور کښې اُوکړۀ
دَ سيو بوټي ، دَ جامن
وسيله دَ وټامن
اول زده کړۀ طريقه
بوټي کور کښې اُوکړۀ
يا امرود واخله انګور
بوټي اُوکره ضرور
ځان نه اُوياسه خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوټي کور کښې اُوکړۀ

بوټي یا دَ نشپاتې

خرماني یا الوچې

خوراك تل ئې کړي مزه

بوټي کور کښې اُوکړۀ

دَ لوکات بوټي یا اَم

په شین والي نه دے کم

نیغه تو له ئې تنه

بوټي کور کښې اُوکړۀ

دَ انځر بوټي کړه نال

په میوو کښې شته کمال

دَ کهجورې وُنه بنه

بوټي کور کښې اُوکړۀ

توت، شهتوت یا دَ اکوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په میو ساته ځان  مور

هریوبوتي کښې فائده

بوتي کور کښې اُوکړۀ

دَ طبیب  نه  حفاظت

دغه تول دے  حقیقت

دَ صحت    بنه  ذریعه

بوتي کور کښې اُوکړۀ

نصیحت  دَ   هر  بابا

یاد ساته  احمده !   دا

وروستو بیا اُوخوره میوه

بوتي کور کښې  اُوکړۀ

..........................

لیکوال

مولانا احمدعلي مرداني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوټي اسکول کښې اُوکړۀ ..... ( نظم )

صدقه ده صدقه
بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
دَ مالټې ،کینو ، انار
بوټي دا هم دی پکار
دَ هر یو بیله ذائقه
بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
دَ سیو بوټي ، دَ جامن
اکسیجن دا وټامن
اول زده کړۀ طریقه
بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
یا امرود واخله انګور
بوټي اُوکره ضرور
ځان نه اُویاسه خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
بوټي يا دَ نشپاتي
خرماني يا الوچې
خوراك تل ئې کړي مزه
بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
دَلوکاټ بوټي يا اَم
په شين والي نه دي کم
نيغه دَ هر يو ئې تنه
بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
دَ انځر بوټي کړه نال
په ميوو کښې شته کمال
دَ کهجورې وُنه بنه
بوټي اسکول کښې اُوکړۀ
توت ، شهتوت يا دَ اکوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په میو ساته ځان موږ

هریوبوتي کښېږي فائده

بوټي اسکول کښې اُوکرۀ

دَ طبیب نه حفاظت

دَ صحت دے ضمانت

دَ صحت بنه وسیله

بوټي اسکول کښې اُوکرۀ

نصیحت دَ اُستاذانو

احمده ! دَ مشرانو

وروستو بیا اُوخوره میوه

بوټي اسکول کښې اُوکرۀ

..............................

لیکوال

مولانا احمدعلی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوټي اُوکړۀ انسانه ! ......... (نظم)

دَ خیرکار دے مسلمانه
بوټي اُوکړۀ انسانه
کورکوڅه په دي ښائستۀ کړه
محله په دي ښائسته کړه
دا دُنیا په دي ودانه
بوټي اُوکړۀ انسانه
مونږله سیوري جوړي دا
په میوو مونږ مړوی دا
نعمتونه عالیشانه
بوټي اُوکړۀ انسانه
اکسیجن پیدا کوُنکی
ماحول ښکلي جوړوُنکی
بیان یاد ساته دا ځوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوتې اُوکړۀ انسانه
دَ مرغو کورونه دا دی
دې کښې جالې په هرخوا دی
شین څادر دے قدردانه
بوتې اُوکړۀ انسانه
دا بیان دَ هوښیارانو
دَ احمد دَ مشرانو
اوریدلی مونږ بابا نه
بوتې اُوکړۀ انسانه

........................

لیکوال
مولانا احمدعلی مردانی
ایس پی ایس تی گورنمنټ پرائمری اسکول
لیبرکالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرَد بوټو .... (نظم)

کرَد بوټو دي پکار ورته حاجت دے
بیش قیمته دولتونو کښي دولت دے
ذریعه دَ اکسیجن دَ پیدا کولو
دَ سرسیوري دَ سکون دے تل دَ تولو
کار څه لږ شان په دُنیا کښي دَ محنت دے
کرَد بوټو دي پکار ورته حاجت دے
ثاني نه لري هیڅ څیز دا په ښکلا کښي
کرَد بوټو زیات پکار دے په دُنیا کښي
صدقه ده، زندګي ده ، عبادت دے
کرَد بوټو دي پکار ورته حاجت دے
لوئي وړوکي له پکار بوټي کرل دي
تازګي ورسره رُو رُو راوستل دي
ذمه دار د دي عمل دغه اُمت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرۀ بوتو دې پکار ورته حاجت دے
رنګ په رنګ د دوایانو ذریعه دا
رنګ په رنګ دَ خوشبویانو وسیله دا
په دې کارکښې منع هرخواته غفلت دے
کرۀ بوتو دې پکار ورته حاجت دے
په خپل وخت کرل پکار دی زرغُنیږی
محنت هله دَ انسان نه ضائع کیږی
اے احمده ! حق بیان دے حقیقت دے
کرۀ بوتو دې پکار ورته حاجت دے

.............................

لیکوال
مولانا احمدعلی مردانی
ایس پی ایس تی
جی پی ایس لیبر کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرِ دَ بوټو دې پکار ........ (نظم)

کر دَ بوټو دې پکار هریو بشر له
ښکلې والے دَ جهان دے لر او بر له
اکسیجن پیدا کوی هریو انسان له
هم تیز والے کر دَ بوټو دې نظر له
دَ ګرمې موسم کښې هرطرف ته ګوره
دَ سر سیورې دَ جهان دے مسسافر له
ښه مسکن دے دَ مارغانو په عَالَم
خوشبویانې دی سحرله ، مازیګر له
ذریعه دَ خوراکونو دَ جهان ده
دَ پناه ځائې په جهان دے ځناور له
میوه دار بوټی لری جُدا مقام
ښه طاقت، غذائیت دے بحروبر له
دَ ښُکلادَ بقا دلته کښې ضامن دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوی تازګی هر میوه جګر له
تیر،کړې هم دَ کمرې کڼه دروازې دی
دَ لرګی دا جوړې شوی دی هر سَر له
ترکانان جوړوُی دې نه ډیر خیزونه
دا کرسی دی که میزونه هر دفتر له
ډیر پولونه دَ لرګو نه دی جوړ شوی
پکاریږی په جوړولو کښې منبر له
یانه سونه پکاریږی په تانبو کښې
کور له دغې جوړوُی خلق ټبر له
دَ مالك هم دَ شاهانو تخت لرګې وی
کټ له دې نه جوړوُو مونږه نوکر له
ضرورت دَ لراوبر دَ هر بشر دے
ډیر خیزونه ترې جوړیږی هر یو در له
دَ فائدې نه وجود کله ئې خالی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږه دا نه کړو هیڅ کله ضرر له
دالرګې دے دَ خشاك وركوى كار
ترکاری په دې پخيږی هر نهر له
کمالات احمده! ډير دَ ونو بوټو
کړ دَ بوټو دې پکار څکه هر نر له

...............

ليکوال


مولانا احمدعلي مرداني
ایس پی ایس ټی
جی پی ایس لیبر کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوتي ......... (نظم)

بوتي هرځائي په دې جهان کيږي
چرته چي دلته کنبي باران کيږي
څنګ چي کرى بوتي بابا دلته کنبي
بوتي په لاسو دَ هر ځوان کيږي
بس طريقه ئي پيژندل پکار ده
پڵه، پټي کنبي په ميدان کيږي
صرف دا کار دَ غريب نه دے دلته
بوتي په لاسو هم دَ خان کيږي
هله غتيږى په جهان دلته کنبي
چي حفاظت ئي په ښهٔ شان کيږي
دا دوائي دَ روح او تن دَ پاره
داسي په خلقو کنبي اعلان کيږي
وسيله لويه اکسيجن دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلي کښبي دا په هر مکان کيږي
دَ اوسيدو ځائي دَ مارغانو تولو
فکر ورسره دَ حيوان کيږي
دا حقيقت احمده! تول ښهٔ مني
په دي ښُکلا دَ بيابان کيږي

......................

ليکوال
مولانا احمدعلی مردانی
ایس پی ایس تی
جی پی ایس لیبر کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوتي هم سيوري .... (نظم)

بوتي هم سيوري ، اکسيجن جوړوي
حُسن ددي ښکلي وطن جوړوي
دا دَ خشاك هم دَ خوراك وسيله
دَ ژوند بقا له سامان نن جوړوي
خوشبو خوشبو هم دَ ميوُو ذريعه
قوي خوراك وجود بدن جوړوي
دَ اُوسيدو ځائي دَ مارغانو تولو
ورله دُنيا کښي ښه مسکن جوړوي
دا ځنګلونه کمالات دَ بوټو
دا حقيقت دے هر ګلشن جوړوي
پاني دَ بوټو ، شنه وابنه چي اُوخري
ځناور هله سپين لبن جوړوي
هغه دَ کور مينځ کښي ولاړه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښُکلا مدام د کور صحن جوړوُی

دي خوش نصیبه هغه خلقه تمام

په کر دَ بوټي دا چمن جوړوُی

ښه شاعران وی چې پیغام ئې ښه وی

په تول پوره ردیف وزن جوړوُی

دا حقیقت دے ښه شعرونه مدام

درودند دَ هرچا تقریر ، سُخن جوړوُی

ښکلي شعرونه تل ښُکلا راولی

سبب دَ صلحې وی اَمن جوړوُی

دا تیارې دَ آخرت احمده !

دَ سکون ځائې بوټي دَ تن جوړوی

..............................

لیکوال : مولانا احمدعلي مرداني ایس پي ایس ټي

......ګورنمنټ پرائمري اسکول لیبر کالوني مردان.......

تمت بحمد الله وبتوفیقه . وصلی الله علی النبی الامی 29اګست2024

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**